**نوټ**: که چېرې د (5) په رابطه کې، $\theta = 0$ شي، په پایله کې د (1) رابطه به لاس ته راشي.

**مثال**: 10N قوه په یوه جسم د $60^\circ$ زاویې لاندې واردوو د (F) قوې کار د ځای په شپږ متري بدلون کې حساب کړئ:

**حل**: د (5) رابطې له مخې لرو چې:

$$= \quad \cdot d \cos\theta$$

$$= (10 \quad ) (6m) \cos 60^\circ = 10 \cdot 6 \cdot \frac{1}{2} = \frac{60}{2} = 30$$


قوه کولای شي چې پر یوه جسم عمل وکړي، خو هیڅ کار ترسره نشي. د مثال په ډول، تاسو د ښوونځي خپل بکس په لاس کې ونیسئ او ودرېږئ، په دې حالت کې کار نه ترسره کوئ ولې؟

**مثال**: یو تن له $\quad = 100$ ثابتې قوې سره، 50Kg جسم د 40m په اندازه بې ځایه کوي. که چېرې د زاویې د وکتور او د ځای بدلون وکتور زاویه $37^\circ$ وي او د اصطکاک قوه 50 وي.

a. د هرې قوې کار چې پر جسم عمل کوي، لاس ته راوړئ.

b. پر جسم د تر سره شوې کار مجموعه حساب کړئ.

**حل**: شکل ته په پام کولو سره لروچې:




(5-4) شکل

a) د W او $F_n$ قوو په واسطه ترسره شوې کار له صفر سره مساوي دي، ځکه چې:

$$_g = m \cdot g \cdot d \cos 90^\circ = mgd \times 0 = 0$$

$$= \quad \cdot d \cdot \cos 90^\circ = \quad d \times 0 = 0$$

هغه کار چې د $F_p$ قوې په مرسته ترسره کېږي، مساوي دی له:

$$= \quad d \cos\theta = (100 \quad ) (40m) \cos 37^\circ = 3200$$

هغه کار چې د اصطکاک له قوې سره ترسره کېږي:

$$_r = \quad _r \cdot d \cos 180^\circ = (50 \quad ) (40m) (-1) = -2000$$


b) د ترسره شوې کار مجموعه ( $_t$) عبارت ده له: $_t = \quad _g + \quad + \quad + \quad _r$

$$_t = 0 + 0 + 3200 \quad - 2000 \quad = 1200$$



ketabton.com - The Digital Library

په همدې توګه موږ کولای شو د مومنت دوه یا څو وکتورونه ساده محصلې د یو وکتور د لاسته راوړلو لپاره سره جمع کړو، د (6-6) شکل ته پام وکړئ، په شکل کې د $m_1$ کتله د $V_1$ سرعت لرونکې ده او دې له مخې د $_1 = m_1V_1$ مومنت لرونکې او همدارنګه د $m_2$ کتلې مومنت $_2 = m_2V_2$ او د دواړو کتلو د سیستم د مومنت محصله عبارت له $_2 + _2 \quad =$ څخه دي.




(6-6) شکل،
د دوه مومنتمو وکتوري جمع

د محصلې د مومنت د پیداکولو لپاره کولای شو د متوازي الاضلاع دوو طریقو له یوې څخه او یا د مرکبو له جمع کولو څخه ګټه واخلو. په یاد ولرئ چې:

$$\text{مومنت د X مرکبه} \quad _1\text{د} = m_1V_1\cos\hat{\theta}_1$$

$$\text{مومنت د y مرکبه} \quad _1\text{د} = m_1V_1\sin\hat{\theta}_1$$

$$\text{مومنت د X مرکبه} \quad _2\text{د} = m_2V_2\cos\hat{\theta}_2$$

$$\text{مومنت د y مرکبه} \quad _2\text{د} = m_2V_2\sin\hat{\theta}_2$$

څرنګه چې د محصلې د وکتور د X او y مرکبې په ترتیب سره د جمع شوو وکتورونو د X او y مرکبو له مجموعې سره مساوي دي ، نو ددې له مخې:

$$\text{د P مومنت د X مرکبه} = \quad _x = m_1V_1\cos\hat{\theta}_1 + m_2V_2\cos\hat{\theta}_2$$

او:

$$\text{د P مومنت د y مرکبه} = \quad _y = m_1V_1\sin\hat{\theta}_1 + m_2V_2\sin\hat{\theta}_2$$

اوس له هغو معلوماتو سره چې تر لاسه کړي مو دي، کولای شو په لاندې ډول ګونو عددونو باور ولرو:

1. د یو جسم مومنتم عبارت دی د هغه د کتلې او سرعت له حاصل ضرب څخه.
2. مومنتم یو وکتوري مقدار دی.
3. د جسمونو د یو سیستم د مومنتم مجموعه د هر مومنت له وکتوري جمعې څخه عبارت ده.



ketabton.com - The Digital Library

